۱- خودم از جمله کسانی هستم که به مطبوعات و نشریات خیلی علاقه دارم و همیشه جراید و نشریات اسلامی خصوصاً آنکه در پاکستان به نشر میرسد مطالعه می کنم و در جمله نشریات که واقعاً مردم بسیار به آن علاقه داشت و خودم نیز آنرا زیاد مطالعه میکردم و یکی هم نشریه، شهادت ارگان نشراتی حزب اسلامی بود که تا یك اندازه حقایق را بر ملا میساخت و همچنان مسائل روز و جهان اسلام را به سمع خوانندگان میرساند ولی متأسفانه که در این اواخر بر علاوه مسائل عمده یك اندازه افواهات و شایعات نیز به نشر میرساند که اکثر آن یکدیگر خود را تکذیب میکند و بعضی مضامین آن ضد و نقیض میباشد بهر صورت در ابتداء جهاد همه مجاهدین که جهاد میکردند به شهادت در راه خدا علاقه داشتند بهمان اساس جریده و نشریه، شهادت نیز به مردم محترم بود و مردم علاقه، خاص داشت ولی اینکه وضعیت جهاد را بعضی مجاهد نماها دیگر گون ساخت مردم از شهادت فاصله گرفتند حتی که با نشریه، آن هم علاقه بعضی مردم کم گشت زیرا که بعضی ها مفهوم اساسی اسلام را درك نکرده بودند و نمیدانستند که حکومت اسلامی و قانون شرعی یعنی چه! پاتك، چور چپاول و غارتگری و بلاخره دوزدی میباشد. ولی خوشبختانه به وجود آمدن تحریك اسلامی طالبان بمردم ثابت گردید که اسلام دین امن و صلاح است که به حفظ دین، عقل، مال، نفس و نسل از شعار آن است و در مناطق تحت کنترول آن در عمل بمردم ثابت گردید فلهذا همان بود که بوجود آمدن تحریك اسلامی طالبان به پخش نمودن نشریه، شریعت مسلمانان روبه شریعت آوردند تا که انسان به شریعت پی نبرد بشهادت هرگز پی برده نمیتواند و از شما گردانندگان محترم احترامانه تقاضا داریم تا برعلاوه مسائل سیاسی، اجتماعی، اقتصادی باید که مسائل فرهنگی اسلامی شرعی هم بخش خاص در این نشریه، مبارك داشته باشد تا باشد مردم ما به مفهوم واقعی اسلام و شریعت آشنا شوند و نسبیکه از اسم مبارك این نشریه هویدا است همان قسم به مردم شریعت را بشناسانند. و اینکه به سوالات این نشریه کسیکه پیغمبر علیه السلام فرموده که: «شما حق بگوئید و لو اگر بر نفس های خود شما باشد» جواب بدهیم و خدا کند که باعث آزرده گی کارکنان محترم [illegible]

ج ۱: بنده «عبدالله» از ولایت لوگر ولسوالی محمد آغه که در سال «۱۳۶۰» از صنف «۱۲۰» لیسه حبیبه کابل فارغ التحصیل گردیدم و بعداً راه هجرت را پیش گرفتم چون مسلمان بودم مثل دیگر برادران خود در صف مجاهدین قرار گرفتم و به جهاد مسلحانه دست زدم و از اینکه خودم علاقه، زیاد به درس داشتم شش ماه سردی را در پاکستان در مدارس دینی میگذشتاندم و هم میخواستم که از دین خود هم چیزی بیاموزم که الحمد الله تا اندازه کتب دینی را مطالعه نمودم و تا سال «۱۳۶۸» به جهاد هم ادامه دادم ولی بعد از آن در مسیر بعضی مجاهدین انحراف بوجود آمد خودم در پاکستان شامل یکی از مدارس دینی گردیدم که در سال «۱۳۷۳» سند فراغت به اصطلاح دوره لیسانس در علوم شریعه گرفتم و تا حال در پاکستان به زنده گی روزمره، خود ادامه داده ام و بعد از رفتن مجاهدین به کابل از اعمال این مردم خسته شده هیچ حتی به کابل هم نرفتم تا باشد که خداوند(ج) بالای مردم رحم نماید و یك آرامی واقعی تحت چتر شریعت در کابل پیدا شود و با دیگر مسلمانان یکجا داخل کابل گردیم.

ج ۲: نظر شخصی بنده در مورد قیام طالبان اینست که مردم بیچاره و مظلوم و مسلمان افغانستان چشم امید به مجاهدین و علی الخصوص به رهبران جهادی داشتند که آنها واقعاً حکومت اسلامی میخواهند و مردم در فضای آرام زنده گی خواهد نمود ولی بر عکس قدرت طلبی، انانیت و حُب جاه و جمال اینها را نگذاشته و به انحراف سوق داده شدند و نام مقدس جهاد را از یاد بُرده به فساد شروع نمودند و مردم از اعمال ناشائسته، آنان بتنگ آمدند و صدا زدند که: «خدایا خارج ساز ما را از این قریه که اهل این قریه ظالم است و بگردان از طرف خود برای ما دوست و بگردان از طرف خود برای ما یارو مددگار» همان بود که تحریك اسلامی طالبان بوجود آمد و بخاطر نجات مردم از دست ظالمان قیام نمودند و واقعاً که تحریك نجات بخش است و برای مفسدین یك عذاب و برای مردم مستضعف رحمت و از خداوند متعال(ج) آرزو دارم که واقعاً سبب رحمت برای تمام مسلمانان روی زمین شوند.

ج ۳: بلی از ولایت لوگر طالبان تقریباً عموم در تحریك شامل بوده ولی از مجاهدین بعضی ها نیز اشتراك دارند.

ج ۴: خودم در مناطق تحت کنترول طالبان از خوست الی سفید سنگ لوگر سیر و سفر نموده ام و از جمله چشم دید های من این بود که نظر به زمان تسلط تنظیم ها فرق عمده رُخ داده اول اینکه نظم و آرامی بکلی موجود بوده هیچ کس با کسی دیگر کار نداشته چور، چپاو،، پاتك ها که سبب بی نظمی گردیده بود از بین رفته حکومت ملوك الطوائیفی در هر منطقه و هر جا که بود و هر کس که هر چه دلش میخواست از بین رفته بود و خودم احساس میکردم که واقعاً در این مناطق مجاهدین نازل شده اند و همان کسانیکه حکومت اسلامی میخواستند همین ها هستند و مسائل پیچیده و متنازعه در بین مردم به وجه احسن حل گردیده و خلاصه که واقعاً مردم احساس حکومت اسلامی را مینمود.

ج ۵: خودم منحیث یکنفر ثالث تا اندازه ای که در مناطق تحت کنترول طالبان گشت و گذار نموده ام بجز ازمردم افغانستان و از طلبه، کرام خود افغانستان و بعضی مجاهدین که همرای شان پیوسته اند کدام شخص خارجی و اجیر و ملیشه پاکستانی را ندیده ام.

ج ۶: پیام بنده به ملتِ مؤمن و شهید پرور افغانستان این است که در هر جای و در هر موقف که هستند باید حمایت و پشتیبانی خود را از تحریك نجات بخش طالبان اعلان دارند و همه با همه دست برادری داده و با تحریك اسلامی طالبان یکجا شده و مردم و ملت مظلوم خود را از دسائیس شوم کفار رهایی بخشند و مجاهدین مسلح که به ضد طالبان هستند از جنگ با طالبان دست کشیده و خود را تسلیم آنها کنند تا یك حکومت واقعی اسلامی در افغانستان مستقر گردد.

* * *

د شریعت اونیزی د قدر وړ مسؤولینو او با احساسه کارکونکو ښی هیلی او سلامونه می قبول کړی.

څرنګه چی د هیواد د بو سپیڅلی تحریك ځوا د (شریعت اونیزه) تأسیس رانه ډیر محبوب او قدرمن دی نو و می غوښتل چی ودغی اونیزی اداری ته له خپل تعارف سره سره د څو سوالونو ځوابونه هم ورکړم، چی د شریعت له لوستونکو څخه غوښتل شوی وو او همدغه راز زه په خپله من حیث یو مسلمان ډیر شکر ګذار یم چی د وطنوالو لپاره د خپلو آزادو نظریو او حقایقو یوه رښتونی خپرونه مینځ ته راغله خدای(ج) دی تاسو لا موفق لری.

دا یوازی ستاسو وجیبه نه ده بلکی هر مؤمن باید له دغی اسلامی اونیزی خپرونی سره همکاری وکړی.

نو د همکاری په سلسله کښی ماهم یو مضمون دو ولیږه خو د یادولو وړ دی دغه مضمون می د طالبانو د اسلامی تحریك د مینځ ته راتلو په ورځو کښی لیکلی خدای وکړی چی نشرشی.

لومړی ځواب: زه محمد ابراهیم(هویت) د حاجی محمد نور زوی د کابل ولایت د چهارآسیاب ولسوالی د موسهی اوسیدونکی چی اوس د باغوانانو په دریم لمبر کمپ کښی د حرکت... په مدرسه کښی د استاد په حیث مسؤولیت لرم.

دوم ځواب: زه د طالبانو د اسلامی تحریكْ لیکم دغه اسلامی تحریك یوازی او یوازی د الهی نصرت او مرستی په اساس مستحکم او ثابت دی د طالبانو اسلامی تحریك د عدل او انصاف یو واقعی تحریك او پاځون دی چی هیواد ته بی د امن سولی او اسلامی نظام وړانګی خپری او د مسلمانانو په ټپی زړونو بی پټی ولګولی د ظلم او وحشت مقابله بی په ډیر سپیڅلی نیت وکړه.

دریم ځواب: زمونږ د چهارآسیاب مسلمان خلك له طالبانو څخه ډیر خوش دی دغه راز د سیمی ټول مسلمان او مجاهد خلك له طالبانو سره هر راز خدمت همکاری او کومکونو ته تیار دی او کوی یی.

څلورم ځواب: ما تر اوسه د طالبانو په صفونو کښی عملاً برخه نه ده اخستی خو مشر ورور می د لوګر ولایت څرخ او خروار د سیمی آمر دی او په تحریك کښی په ښه نیت خدمت کوی.

* * *

دشریعت اونیزی محترم مدیر صاحب!
السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته
څرنګه چه تاسو د شریعت په اونیزه کی له هغه چانه چه د طالبانو تر تسلط لاندی سیمو ته ئی سفر کړی وی پوښتنی و چه خپلی خاطری ولیکی

نو زه هم غواړم چه خپلی خاطری چه له طالبانو څخه ئی لرم په لنډ ډول ولیکم ما تقریباً (۳) میاشتی په وردګو، میدان ښار، چهارآسیاب او ریشخورو کی د طالبانو سره یو ځای تیری کړی دی او هلته زما په چاپیریال کی ټول هغه ملګری وو چه یخوا می یا په دارالحفاظ او یا په مدرسه کی لیدلی وو. هلته زما تر ځنګ ټولی سپینی او توری ږیګی وی هلته ما هیڅبری هم د جنرالی خوله و نه لیده.

هلته به چه کله هم سهار له خوبه را پاڅیدم زما مخکی ورروسته کین او ښی اړخ ته به د قرآنکریم تلاوت کیده او بالمقابل د مسعود په پوسټو کی به د ساز او سرود آواز تر غوږو کیده او د خدای لپاره ګواهی ادا کوم چه هلته زما ټول ملګری مجاهد طالبان وه او په خدای سوګند کوم چه ما هیڅ بهرنی ملیشی نه دی لیدلی خو بدبختانه چه کله به موهم د رباني راډیو ته غوږ ونیوو نو د رباني لاسپوڅو به کړیکی کړی چه «په چهارآسیاب کی پاکستانی ملیشی دی او زمونږ په ضد جنګیږی» ما چه به کله هم داخبره واوریده مورچل په مورچل به وګرځیدم بی له طالبانو څخه به می بل هیڅوك هم تر سترګو نه شول زه نه پوهیږم چه د رباني اداره ولی داسی سپیره دروغ بادوی که چیرته د ربانی مطلب له پاکستانی ملیشو څخه مجاهد افغانان وی نو بیا خو رښتیا هم چه افغانانو د طالبانو مرسته کړی او کوي له پاکستانیو ملیشو څخه مطلب کم بل څوك وی نو ما خو هلته بل هیڅوك هم نه ولیدل.

هوا د طالبانو د تحریك تر تسلط وړاندی به په هر کلی کی د ...رسیانو او قماربازانو حلقی تر هری ونی او توت لاندی پټوی وی د قوماندان صاحب(!) باډیګاردان چه وینتان به ئی تر لن اوږده وه سګرټ به لاس په ګودرونو لړ او بر ګرځیدل او هیچا به هم ددی توان نه درلود چه ورته ویلی ئی وای ګوډ.. د سټو ځای دی او تاسو ته دلته ګرځیدل نه ښائی خو چه کله هم د طالبانو تحریك زمونږ د سیمی په لوری حرکت وکړ هلته هرڅه سرچپه شول وحشت او تاړاك خپل ځای سوکالی او امنیت ته پریښود او د طالبانو د را رسیدو سره سم د یتیمانو او کونډو آرمانونه پوره شول او هغه مظلومان چه ظالمانو د دوی په ځمکو او پیسو منګولی خښی کړی وی طالبانو د شریعت په رڼا کی ددوی دعوی په حیرانونکی ډول په لنډه موده کی حل کړی طالبانو ټولی هغه لانجی چه ۱٦ کاله هیچا هم نه وی حل کړی په یوه اونی کی حل کړی.

هغه خاطری چه زه ئی لرم ډیری خوږی او اوږدی دی خو زه تشم کولای هغه ټول څه چه په زړه کی می دی په قلم پلی کوم خو ګرانو لوستونکیو ته وصیت کوم چه که د طالبانو په اره ورته کومه اندیښنه پیدا کیږی مهربانی دی وکړی او د طالبانو سیمو ته دی لاړ شی ترڅو هر څه په خپلو سترګو وګوری او د اسلام د دښمنانو پوچو تبلیغاتو او پروپیګندو ته دی غوږ نه ږدی.

ما د یوه مسلمان وګړی په صفت خپل نظر خاص د خدای د رضا په خاطر څرګند کړی او یواځی له الله تعالی څخه د اجر غوښتنه کوم.
الله قد بلغتُ الله فاشهد.
ستاسو ورور فضل الرحمن «عزیز».

## اعتذار

په څلورمه ګڼه کی د دیوکراسی په تعریف کی، دری واړه کلمی People ولوی، او هم The - ghe ولولی.

---

# ستاسو لیکونه

## زمونږ ځوابونه

د طالبانو د اسلامی تحریك زړه وړو مجاهدینو او د «شریعت اونیزی» محترمو کارکوونکو ته د زړه له کومی نیکی هیلي او سلامونه وړاندی کوم.

خداي مو روغ جوړ او په خپلو اسلامی اهدافو کی کامیاب لره.

د طالبانو داسلامی تحریك د شروع سره سم د یو شمیر شرپسندو او لوټمارو خلکو له لوری دا تبلیغات پیل شول چی ګنی دا خارجی اجنټان دی او دا پاکستانیان او پنجابیان او د امریکا له طرفه ورسره مرسته کیږی او نور قسم قسم تبلیغات.. خو په مرور د وخت سره دا خبره ثابته شوه چه د طالبانو اسلامی تحریك هغه ځواك دی چی د ځان سره ئی د امن، سولی، خپلواکی او اسلامي شریعت زیري راوړی او دا هرڅه ئی په عمل کی وښودل چه د سر، ځان، مال، ننګ او ناموس د اطمینان او تحفظ وړ هرچانه وړکول کیدای شی. پس مونږ د هرا خدمن او ټولو جهادي تنظیمونو څخه خواهش کوو چه ددی اسلامی تحریك تر شا ودریږی او په کوم دا د ربانی ګرغیړنه او جابره اداره تسکوره کړی او پر ځای یی یو سوچه اسلامي حکومت د ولس په خوښه جوړ کړی په اخیر کی مو لوي الله(ج) مل او نګهبان شه.

اسدالله«اختر زی» د احمد شاه ابدالی پوهنتون د طب پوهنځی محصل

ګرانه وروره اسدالله «اخترزی صاحب» له نیکو هیلو او دعاګانو ډك لیك دي راورسید، کتې مې مو درنه خپور کړ، راتلونکو همکاریو ته مو سترګی په لار یو.

* * *

د «شریعت اونیزی» درنو کارکوونکیو:
ښی هیلی او سلامونه می قبول کړی له لوی خدای (ج) څخه مولا بریال غواړم.
اخبار مو ډیر په زړه پوری دی که خدای کول ډیر ښه راتلونکی لری.
لیك او یو لنډ مضمون می در ولیږه هیله ده چی خپوریی کړی. په درنښت
د شریعت اونیزی لوستونکی
محمد داود فرهنګ یار بغلانی
له ناصر باغ سوری پله نه

فرهنګ یاره وروره لیك او مضمون دی راورسیدل، نیك نظر ته دی په درنه سترګه ګورو لیك دي خپور شو خو مضمون دی د نیمګړتیا د لرلو په وجه له خپریدو نه پاتی شو.

* * *

د «شریعت اونیزی» محترم کارکوونکو
السلام علیکم و رحمة الله و برکاته اما بعد:

الحمدلله چی زمونږ مسلمان ملت د هجرت په کور کښی ستاسو د اخلاص او هلو ځلو له برکته د یوی داسي اونیزی خپرونی چی واقعاً زمونږ مجاهد ملت ته د شریعت وړانکی خپروی برخمند وګرځید.

د طالبانو اسلامی تحریك نه دا چی خپل مجاهد ملت ته په فرهنګی ډول د شریعت وړانګی خپری کړی ، بلکی په عملي میدان کښی یی هم زمونږ د سپیڅلی هیواد د نیمی څخه زیاته برخه د ظلم، ستم، فسق او فساد ، قتل او قتال له تورو تیارو د شریعت په سپینه رڼا منوره وګرځوله ، خدای(ج) دی تاسو او مونږ ته د اسلام د لا ښه خدمت وس او توان راکړی،

او دا دی د «شریعت اونیزی» په هکله د «شریعت د عنوان» او«که په هډ برمه برمه شم» په نومونو دوه بیل بیل شعرونه درولیږل ، هلیه ده چی راته خپاره یی کړی.
په مینه
طالب العلم عبدالجلیل«متحدي»
د باغوانانو کمپ شمشتو روډ نه

طالب العلم عبدالجلیل «متحدی» وروره سلامونه دی قبول دی له نیك نظر نه دي یوه دنیا مننه، لیك او شعر دي خپور شو له اونیزی سره دي قلمی همکاری ته سترګی په لار.

* * *

## نیت های خود را پاك ...

و فرمایش امیر، همه صحابه، کرام به شکست مؤقتی مواجه گردیدند در حالیکه رسول الله (صلی الله علیه وسلم) در میان شان خود تشریف داشتند.

و خداوند(ج) هم به این امر مسلمین را مکلف فرموده که: (اطاعت کنید خدا را و رسول او را و صاحب امر خویش را) به اساس نصوص قرآنی اطاعت امیر یك امر وجوبی میباشد و رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرموده است:

اطاعت نمائید امیر خویش را گرچه سر آن به مانند کشمشی باشد).

لذا شما مکلف میباشید که در همه، امور شرعی اطاعت نمایید من را، اگر من خلاف شریعت رفتار نمودم شما حق دارید که مقابل من صدائی خود را بلند نمائید و من را از این مقام بزرگ و پر مسؤولیت به زیر بأفگنید.

## د طالبانو د اسلامی تحریك د محترم امیر ...

۱- حاجی محمداخند دبانکونو د ریاست نه تبدیل دگومرکاتو د عمومی رئیس په حیث

۲- الله داد اخند د گومرکاتو د عمومی ریاست نه تبدیل د مخابراتو د عمومی رئیس په حیث.

۳- ملا احمدالله اخند د مخابراتو د عمومی ریاست نه تبدیل د بانکونو د عمومی رئیس په حیث

٤- ملا عبدالرزاق اخند دکندهار د دوهم نمبر قول اردو دمعاون په حیث او ملامحمدطاهر اخند دنوموړی قول اردو دمالی رئیس په حیث.

*****

## د پکتیا والی مولوی کرامت الله ...

خبریال زیاتوی د طالبانو د اسلامی تحریك امیر ملامحمدعمر(مجاهد) د پکتیا والی د پکتیا د شریفو او مجاهدو خلکو له طالبانو سره د پوره همکاری ډاډ ورکړ دغه راز د تحریك امیر د پکتیا والی ته پولې هدایات او لارښوونی وکړی.

## د کندهار (۱۵)مه پلی فرقه ...

په مشری د فرقی د قوماندانی په انګړ کښی جوړه شوه.

غونډه د قرآن کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت پیل، وروسی د غونډی برخوالو ته د فرقی قوماندان ملا عزیزالله اخند په روانو شرایطو کښی د وسلوال منظم پوځ د ضرورت په اړوند وزدې خبری وکړی.

په پای کښی د (۱۵) می پلی فرقی د مربوطو څانګو او جزوتامونو مسؤولین د غونډی برخوالو ته وړ معرفی شول. او د فرقی د مربوطو بخشونو ټولو مسؤولینو او مرستیالانو د ورسپارل شویو دندو په اجرا کولو پیل وکړ.

*****

## افغانان له کشمیر نه هیڅوك په زور نشی ویستلی

مظفر آباد : دجدی (۲۱) مه

دکشمیر د جماعت اسلامی امیر شیخ عقیل الرحمن ویلی افغان مهاجرین له مونږ سره د کشمیر په جهاد کښی با قاعده شریك دی او هیڅوك یی په زور له کشمیر نه نشی شړلی د کشمیر په جهاد کښی د افغان مجاهدینو کردار له نظره غورځول په جهاد سره غداری وی او زیاته یی کړه: دلته دافغان مهاجرینو مخالفت یوازی سیکولر عناصر کوی چا ته چی افغان مجاهدینو په افغانستان کښی سخته ماته ورکړی او کمونیزم یی ورته ختم کړی دی.

د هرات والی ملا یارمحمد آخوند سره د نړیوال سره صلیب مشر دکتلو په وخت کی وویل؛

## نن چه زمینه مساعده او امنیت برقرار دی په کاردی چه خپل کارونه گړندی کړی

تیره ورځ د هرات محترم والی ملایارمحمد آخوند چه د هرات د خارجی مؤسساتو مسئول ملانور محمد آخند هم حاضر وو، د هرات ولایت په خصوصی میلمستون کی یی د نړی وال سره صلیب له پخوانی مشر پیتر استهاکو او اوسنی مشر نیشل بیکو سره او د سره صلیب د هرات ددفتر د مشر نیلگون سره وکتل د خبرو په ترځ کی د هرات والی ملا یارمحمد آخند د سره صلیب د کارکردگی نه خوښی ښکاره کړه، او زیاته یی کړه :

تاسو د جهاد په سختو شرایطو کی او هم په دی سختو شیبو کی په افغانستان کی کار کړی دی او هم په داسی حال کی چه په لسګونو موټرونه در څخه تښتول شوی دی او کارکوونکی مو مشکلاتو سره مخ شوی دی.

نن چه زمینه مساعده او امنیت برقرار دی په کاردی چه خپل کارونه ګړندی کړی ترڅو له یو طرفه مهاجرین بیرته خپل وطن ته راورګرځی ، کلی او لاری آبادی کړی او له بل پلوه" د افغانستان خلق هم وپوهیږی چی دا د امنیت برکت دی چه وطن بیا د آبادی په لوری روان شو.

## در زرنج مرکز ولایت نیمروز بالای دونفر مجرم جزای شرعی تطبیق گردید

خبرنگار هفته نامه، شریعت از مرکز ولایت نیمروز -زرنج- خبر میدهد که در هفته، گذشته در زرنج هزاران نفر غرض بازدید از تطبیق حدود شرعی حضور بهم رسانیده بودند.

نخست علمای کرام در باره، فوائد تطبیق حدود شرعی و تأثیر عمیق آن در استقرار امنیت عامه سخنرانیها و بیانات مفصلی ایراد نمودند که با نعره های تکبیر حاضرین و نعره، وما در تمام افغانستان اجرای حدود شریعت میخواهیم، بدرقه میشد، در اخیر قاضی محکمه دوسیه، مجرمین و اثبات جرم شان را به سمع عامه رسانیده گفت:

۱- نورمحمد ولد غلام محمد در حالت عدم احصان با یك زن پاك دامن جبراً مرتکب عمل فحشاء شده است و محکمه در حق وی تطبیق (هشتاد دره حد زانی غیر محصن) مقرر کرده است.

۲- وزیر ولد غلام سرور عمل دزدی -سرقه- کرده واقرار هم نموده است، محکمه در حق وی حد شرعی سرقه (قطع دست راست از بند پنجه) مقرر کرده است. بعد ازین هر دو مجرمین در محضر عام بجزای شرعی رسانیده شدند.

*****

## مسائل کانکور و حل آنها

به اطلاع علاقمندان کانکور رسانیده میشود که : جهت آمادگی کانکور کتابی بنام (مسائل کانکور و حل آنها) که حاوی (۱-۲۱۸) سوال وجواب، امتحان کانکور میباشد طبع گردیده است، در این مجموعه از سوالات امتحانات کانکور تمام پوهنتون های کشور استفاده بعمل آمده و شما میتوانید آنرا از همه کتابفروشی های کابل، جلال آباد و پشاور بدست آورید.

## دجلوزو په کیمپ کی ...

طالبانو اسلامی تحریك ته حواله کړی ترڅو په ټول افغانستان کښی شریعت نافذ او امن قایم شی.

د کمپ خلکو د طالبانو له اسلامی تحریك سره خپل ملاتړ اعلان او طالبانو ته یی د بشپړی همکاری ډاډ ورکړ.

په غونډه کی د اتحاد اسلامی افغانستان دمرکزی شوری غړیو یو ځلی بیا دطالبانو له اسلامی تحریك سره خپل ملاتړ تازه کړ او وادیی وړکړ چی مونږ به ان شاء الله تر اخره لتاسو سره ملګری یو.

غونډی د خپل ملاتړ په لړکی لاندی پریکړه لیك تائید او برخه والوته یی واوراوه:

۱- مونږ په افغانستان کی داسی اسلامی حکومت غوښتونکی یو چه اساس یی حنفی فقه وی.

۲- د طالبانو اسلامی تحریك دهر ډول: لسانی، سمتی، نژادی تبعیض سره مخالفت لری.

۳- د ربانی موجوده غیر قانونی او بی کفایته اداری څخه په کلکه غوښتنه کوو چی ژر تر ژره واك د طالبانو اسلامی تحریك ته تسلیم کړی.

٤- ټول قوماندانان او جهادی تنظیمونه دی خپلی اسلحی د طالبانو اسلامی تحریك ته وسپاری څو په افغانستان کی امن جوړ شی.

۵- مونږ د طالبانو د اسلامی تحریك څخه هیله کوو چی روسی بندیان تر هغی پوری خوشی نکړی، څو یی څمونږ په زرګونه بندیان خوشی کړی نه وی او پایی په بین المللی سطحه مونږ ته دهغوی دسرنوشت په هکله د ډاډ وړ معلومات نه وی راکړی.

٦- ددی دپاره چی د طالبانو اسلامی تحریك په افغانستان کی امنیت قائم کړی او دهیواد اداری او سیاسی سستم یی د اسلامی خلافت په بنسټ باندی ایښی، مونږ یی بشپړ ملاتړ کوو.

۷- ترڅو چی په افغانستان کی یو واقعی اسلامی نماینده حکومت منځ ته نه وی راغلی او هلته کی امنیت نه وی را مینځته شوی، د پاکستان حکومت خپلی مرستی باید له افغانی مهاجرینو سره جاری وساتي او دهغوی د بی ځایه ځورولو څخه ډډه وکړی.

۸- له روسانو، ایرانیانو څخه په کلکه سره غوښتنه کوو چی په افغانستان کی خپله مداخله بنده کړی.

غونډی ته مولوی فضل احمد، مولوی میرحبیب، محمد اکرام خوګیانی، مولوی عبدالحی زعفرانی، مولوی زیاد، مولوی نورآغا هاشمی، خیرالله صدیقی، مولوی محمدیوسف، او نورو علماء کرامو او قومی مشرانو خبری وکړی، په پای کی مولوی صاحب محمد رحیم دعا وکړه.

## ملی گرایی در خدمت ...

آنها میخواهند این مرحله را به همین نام و عنوان معرفی نمایند، روی کار شدن نظامهای محلی، خاصتاً عسکری در این مرحله شکل میگیرد این مرحله به نفع و مصلحت کفار صلیبی بسیار کار کرد و مؤثر افتید، نظریه و مفکوره، غرب صلیبی بر مردم مشرق زمین بزور و نیروی عسکری قبولانده شد و نام آنرا وطن خواهی، ترقی، و ملیت پرستی گذاشتند این نظامها آواز ملیت خواهی را بلند کردند و زیر همین آواز های فریبنده و دلخراش فرزندان غرب زده، حاکم بر کشور ها وطنداران مومن ، مخلص و فرزندان اصیل شرق (علماء، مشایخ و دانشمندان) را به پایه های چوب دار کشانیده، به زندان شکنجه، اهانت و تحقیر آنها پرداختند وحشت، ظلم و ناروائی را که غرب صلیبی در عصر و زمان سلطه، مستقیم خود آورده بود. مراتب کوچکتر و کمتر از آن بود که حکام خیره سر محلی. انگلیسهای کندمین آنرا در حق هموطنان خویش اعمال کردند.

و یکسره حاکمیت شرعیت و عنعنات پذیرفته شده، مسلمان مشرق زمین را ملغی اعلان کردند و اساسات الحادی و سیکولیرستی تمدن غرب صلیبی را بر مردم خویش به زور برچه حاکم گردانیدند و از این رهگذر حق و حقوق غلامی را مقابل باداران صلیبی و حامیان یهودی خود ها به کمال اخلاص و فرمان برداری به جای آوردند.

**پرنامه ها و اداواتیکه در این تغییر و تحول بکار گرفته شد.** (ادامه دارد)

## زمونږ یوازینی هدف دادی ...

تر کنټرول لاندی سیموکی، څمونږه ډیر زیات پلویان دی، چی هغوی له دی ځایه هلته خپلو کورونوته ځی او راځی، په رسمی ډول نه مونږه کوم وفد دوستم ته لیږلی دی او نه حکمتیارته.

ددی پوښتنی په ځواب کی چی په ټول افغانستان باندی له تسلط څخه وروسته به د طالبانو د اسلامی تحریك څه ډول نظام وی؟ د کندهار والی صاحب وویل، لکه څنګه چی ما مخکی هم وویل، څمونږه یواځنی هدف دادی چی په هیواد کی د الله (جل جلاله) نظام پلی کړو، څمونږه قانون به د الله (جل جلاله) شریعت وی. کله چی د الله قانون پلی شی ټولو طبقو، مذهبونو، او مسلکونوته به خپل حق ورسیږی، د هیچا حق به تر پښونه لاندی کیږی. دټولو ګیلی به پاینه ورسیږی او بیا به هیڅ ډول ویښی تربول نه وی، او دا کار د انسان په لاس د جوړ شوی قانون په وسه باندی پوره نه دی، دا صفت یواځی د لوی خدای (جل جلاله) په قانون کی دی.

کی د قندهار والی صاحب وویل چی څمونږه د پالیسی معیار اسلام دی، څوك چی د اسلام او مسلمانانو دوست وی هغه زمونږ دوست دی، داکه امریکه وی، که روس ... او یابل هیواد، په دی لړکی مونږ دکوم خاص هیواد نوم نه اخلو بلکی یواځی د اصولو په بنیاد کولاپشو سره پیل یی کړو چی د اسلام دوست او مرستیال څمونږ دوست دی، او اسلام ته ضرر رسونکی څمونږه دښمن دی.

د ربانی د حکومت او ځینو نورو عناصرو د بی ځایه الزامونو په هکله چی پاکستان له طالبانو سره مرسته کوی، ملامحمدحسن اخند وویل چی: دا بی ځایه پروپاګند او تبلیغات دی چی څمونږ په خلاف یی ځنی خلك کوی چی ثبوت ورسره نشته دی، اخیر پاکستانیان خو پیریان نه دی تر اوسه پوری خو به یی کوم ځوك نیولی وو، څو چی مونږ له ربانی سره په

مانی ورکړه، اوس به مونږ ځنګه پاکستانی فرځ ته سرټیټوو چی راشی څمونږ مرسته وکړی.

دیوی دقیقی دپاره دا خبره فرض کوو چی له مونږ سره پاکستانیان دی، نو بیا ربانی ولی دومره بزدل او بی غیرته دی چی له پاکستانیانو څخه بیریږی، د هیواد خوارلس ولایتونه یی پاکستانیانو ته پریښودل، آیا په ده کی دومره اسلامیت، غیرت او افغانیت نشته چی د پاکستانیانو مقابله وکړی! واقعیت دادی چی طالبان پاکستانی نه دی، بلکی داهغه اصیل افغانان دی چی په هیواد کی د اسلامی نظام د پاره مبارزه کوی. اوله دوی سره دلوی خدای (جل جلاله) مرسته او نصرت دی، مونږه باور لروچی ددنیا هیڅ طاقت څمونږ مقابله نشی کولای.

دیو بل سوال په ځواب کی چی دطالبانو

د لوی خدای (جل جلاله) په قانون کی دی.

دیوی بلی پوښتنی په ځواب کی چی د طالبانو اسلامی تحریك په افغانستان کی به حکومت جوړولو بریالی شی، نو دګاونډیو اسلامی هیوادونو سره به یی اړیکی څنګه وی؟ ده وویل: له ایران، پاکستان او نورواسلامی هیوادونو سره به څمونږه اړیکی داسلامی ورورولی په اساس باندی ولاړی وی. نه به دیویل په داخلی چاروکی مداخلت کوو او نه به دیویل د دښمن حمایت کوو. که کوم هیواد دګاونډی هیواد په کورنیو چارو کی مداخلت کوی، دا خپله د هغه دپاره په راتلونکی کی خطرناکه ثابتیدلای شی. مونږ ته معلوم دی چی ایران څمونږ په خلاف سخت پروپاګند او تبلیغات کوی، او څمونږ مخالفینو ته روزنه ورکوی او هر ډول وسایل ورته برابروی، په داسی حال کی چی نړیوالوته څرګنده ده چی مونږ د ایران په خلاف هیڅ ډول کوم عمل نه دی کړی. او د ایرانی حکومت د مداخلت له مونږه سره ثبوتونه شته دي. خوله دی ټولو سره سره مونږ داسلامی اخلاقو په چوکاټ کی دهغوی د پوهولو هڅه کوو چی ایران څمونږ اسلامی وورور دی، مونږ ددوی په خلاف دهیڅ نوع اقدام کولو اداره نه لرو.

دامریکا په اړوند دیوی پوښتنی په ځواب

مستقیم ټکرکی نه وو راغلی، هغه به مونږ ته د مرستی وراندیزونه کول، او د طالبانو تحریك به یی مثبت او طالبان به یی ښه خلك بلل، ویل به یی دا خلك د فساد مخه نیسی او په هیواد کی داسلامی نظام د پاره مبارزه کوی. خو کله چی څمونږ د اصلاح پروګرام په ربانی باندی ورغی، او ورته ومو ویل چی خپل فسادونه دی اصلاح کړی، نو هغه بر عکس د خدای تعالی لوی دښمنان، له ځانه سره وئیول، څمونږ په خلاف یی جګړه پیل کړه، نو مونږ هم له دوی سره په جګړه لاس پوری کړ.

له دی نه وروسته دوی څمونږ په خلاف ناروا تبلیغات پیل کړل: دا پاکستانی طالبان دی، له دوی سره د امریکا او اروپا حمایت دی.

خو مونږ ټولی نړی ته بلنه ورکوو چی راشی طالبان وګوری، دا څوك او څنګه خلك دی؟ د افغانستان خلك په لوی خدای (جل جلاله) باندی توکل او بروسه لری، بی غیرت او بزدل نه دی چی په خپله نشی جنګیدلای او د خپل هیواد ساتنه پاکستان ته پریږدی. دا هغه افغانان دی چی ځوارلس کاله یی د روسانو په خلاف جهاد وکړ، په لکونو شهیدان یی ورکړل او دنړی ستر مادی ځواك ته یی

کامیابی په صورت کی کیدایشی افغانستان تجزیه شی؟ ملامحمدحسن آخند وویل: داټول د اسلام او افغانستان د دښمنانو پروپاګنډ او تبلیغات دی. واقعیت دادی چی یواځی طالبان کولایشی یو موټی او متحد افغانستان وساتی. داځکه په دغه تحریك کی دهری سیمی او هری ژبی عالمان او طالبان شامل دی چی دملت نمایندګی کوی، د طالبانو اسلامی تحریك غواړی په هیواد کی داسی یو نظام پلی کړی چی هلته د هر نژاد، فرقی او مذهب حقوق محفوظ وی.

له افغانستان څخه د باندی په نړی کی د اسلامی خوځښتونو په اړوند دیوی پوښتنی په ځواب کی ملامحمدحسن آخند وویل: څوك چی د اسلام د سرلوړی دپاره جهاد کوی څمونږه دعاګانی له هغوی سره دی. څه چی څمونږ په وس کی کیږی مونږ به یی ورسره کوو. اسلام جغرافیوی پولی نه منی، اسلام یو امت غواړی، اسلامی تحریکونه هر چیرته چی وی څمونږ، ورونه دی مونږ هغوی ته احترام لرو. اوس مونږ خپله په مشکل کی یو، ځکه له عملی مرستی څخه قاصر یو، د کشمیر مسلمانانو ته څمونږ دعاګانی دی چی الله تعالی دی کامیاب لری.

## سرمقاله ...

او هدایت یی په برخه شو، او چاچی انکار وکړ، ځانونه یی د ذلت او نابودی کندی ته وغورځول.

د طالبانو د اسلامی تحریك دریزونه او مراقف د بحران دحل په اړوند ډیر ښکاره او څرګند دی: هغه دا چی د متعددو، متفرقو او منتشرو قیادتونو، او وسلوامهارونو په موجودیت کی دخلکوامنیت، دهیواد واقعی اسلامی حکومت جوړول خوشی خوب او خیال دی. داځکه چی یی شمیره غیر متجانس او [illegible] غیر مخلص اتحادونه او ائتلافونه تجربه شول، تعهدونه او قراردادونه د کاغذ په مخ باندی امضا او په غیر مسئولانه ډول تر پښو لاندی شول. چی دهغو تکرار او اعاده، یواځی د وخت د ضایع کولو او دخلکو دمایوسه کولونه پرته بله نتیجه نه ورکوی.

خو له بده مرغه، یو شمیر ګوندونو او اشخاصو چی ټول تمرکز یی په خپل ځان او یو شمیر اندیوالانو باندی دی، د طالبانو د اسلامی تحریك په دغه څرګند اسلامی او حکیمانه مراقفو باندی دځان پوهولو په ځای، د شك او تردید په سترګه ورته وکتل. او ددوی په خلاف یی ناروا تبلیغات او خپرونی پیل کړی، په ناروا جګړو باندی یی لاسونه پوری کړل. او دغه تحریك یی دجهاد او جهادی ګوندونو په خلاف بهرنی دسیسه او سازش وباله. خو ګام په ګام د الله په نصرت حیرانوونکی ماتی سره مخامخ شول.

اوس چی د طالبانو اسلامی تحریك په خپله دغه مقدسه اسلامی مبارزه کی مخ په وړاندی روان دی، د نیمایی په زیات افغانستان کی یی له خلکو څخه وسلی ټولی کړی دی. سرکښ او خود سره قوماندانان یی مات کړی او یا تسلیم کړی دی او هیواد وال یی دهر ډول ظلم او زور، وحشت او بربریت څخه ساتلی دی.

اسلامی شریعت یی په عمل کی پلی کړی دی، په نیول شوو سیموکی یې د مقدس جهاد اهداف او د شهیدانو ارمانونه ترلاسه کړی دی، په دی اړوندیی دهر ډول بهرنی تهدید او فشار په مقابل کی خپل اسلامی او افغانی غیرت او شهامت ښودلی دی. دپردیو د ثالثی په ځای یی خپله بین الافغانی خبروته ترجیح ورکړی ده.

نو ځکه د کابل اداری او نورو جهادی ګوندونو او ډلوته په کار دی چی: له خپله شخصی او ګوندی مادی ګټو څخه تیر شی، د ملت اسلامی او ملی ګټی په نظر کی ونیسی، او دطالبانو د اسلامی تحریك سره له غیر اسلامی مقاومت او رقابت څخه لاس واخلی، او په اخلاص او صداقت سره دی دغه یی طرفه او بی پری تحریك ته فرصت او موقع ورکړی، چی د مسلمانو او مخلصو مجاهدینو په لاس په افغانستان کی یو واقعی اسلامی حکومت جوړ کړی، څو په نړی کی د اسلامی افغانستان وقار او عزت په ځای کړی. او زمونږ هیوادوال دجګړی او تخریب په ځای د وطن ورانی ویجاړی بیرته ودانی کړی، له تار په تار دربدر هیواد څخه، یو موټی، ځواکمن او سمسور اسلامی افغانستان جوړ کړی. انشاء الله

## تردد اداره، کابل و انگیزه های ان

بعد از اینکه ربانی اعلان کرد که حاضر است برای حل بحران به مزار و قندهار سفر کند و در مقابل آن عکس العمل های نه چندان درشتی نشان داده شد رادیو کابل به خوشی تبصره ها میکند که اعلان دولت یك فتح بزرگ سیاسی است که مخالفین را بمذاکرات مائل کرد...!

ولی مردم میگویند که: اینهم مانند اعلانهای بسیار در گذشته حیله ای برای دراز کردن عمر سلطنت (!) است! اگر آن همه حیله ها بحساب فتح درآید پس اداره، کابل فاتح بزرگ خواهد شد! و چنین فکر میشود که عکس العمل های تنظیمها و تحریك اسلامی طالبان نه بر مبنای باور به حاضر بودن اداره، کابل به انتقال قدرت است بلکه بنابر اینکه هر سوالی را جوابی میباشد و علاوه از آن هر کس برای رفع مشکلات و حل بحران فعلی برابر ذوق و انگیزه، خود چه در حال و چه در گذشته آماده گی خود را نشان داده و میدهد.

اما اداره، کابل به احتمال راجح مانند گذشته ها برای ازدیاد عمر خویش آنچه را که در گذشته بسیار گفته است یك بار دیگر تکرار نمود تا اگر شود که از فشار های مالی و نظامی و روحی دوام جنگ بکاهد چنانچه از لهجه، ابلاغیه، تکاتی بنام احمدشاه مسعود فهمیده میشود در نخست آتش بست و کشودن راه ها و تبادله، اسیران و تداوم مذاکرات، و اگر به احتمال مرجوح این فشار دل شان را گرفته و به حل بحران حاضر شده باشند ارتباط های شان با جهات قضیه خالی از تردد- و یا حیله - نیست.

اگر خلوص نیت باشد مذاکرات و تفاهم مخلصانه راه حل شده میتواند ولی راه آسان و نزدیك به حل معضله تفویض اقتدار برای تحریك اسلامی طالبان است و بهترین میکانیزم در حال حاضر همین تحریك است؛

بدلیل اینکه تحریك اسلامی طالبان در ولایات زیر تسلط شان احکام شریعت اسلامی را عملاً تطبیق و گامهای وسیعی را برای اقامه، مکمل نظام اسلامی که ارمان شهدای کرام (رحمهم الله تعالی) وآرزوی همه ملت مسلمان افغانستان و همه امت اسلامیست برداشته است؛

و بدلیل اینکه ائتلافهای متعدد تنظیمها در گذشته نه تنها به برآوردن آرزوهای ملت مسلمان و مجاهد افغانستان یك قدم نزدیك شده نتوانسته اند بلکه مسئله را پیچیده تر ساخته، فاصله ها و عداوتها و گره های ناگشودنی زیادی را بار آورده است که منشأ این همه مشکلات بحساب می آید.

و بدلیل اینکه اعضای این تحریك

ص۲

## د افغانستان د لاردرکه بندیانو له جملی (خانزاده) په روسیه کښی له (۱٦) کاله بند تیریدو وروسته کنړ ته راورسید

د«شریعت اونیزی» اداری ته د روان هجری لمریز کال د مرغومی د میاشتی په (۱۹) مه نیټه د (خانزاده) رارسیدلی پراسنتی لیك په گوته کوی چی: زه(خانزاده) د عبدالحکیم زوي په قوم دیګان د کوټکی کلي د څوکی ولسوالی

د کنړ ولایت اوسیدونکی دامسکو په(۵۵-٤۰۰) دیوان د لاسکی، ولشمه بدیبوا، شکوله، انترنات نمبر(۹) لومړی خیل(سایبریا) دوم ځیل (منګولیا) دریم ځیل(تاتریا) کښي له (۱٦) کاله بند وروسته (۱۵) ورځی پخوا خپل کور کنړ ولایت ته راورسیدم.

څرنګه چه «خانزاده» ورور په خپل را استولی لیك کښی نور معلومات نه دی قلم بند کړی د«شریعت اونیزی» اداره ورنه غواړی چی له خپلو ټولو راوړیو معلوماتو او رازونو سره یو ځای تشریف راوړی ترڅو د لا درکه افغانی بندیانو په هکله مستند معلومات او شواهد په تفصیل سره د نړي امن خوښونکو خلکو ته وړاندی کړو.

## د طالبانو د اسلامی تحریك د حج او اوقافو د ریاست اعلامیه

ټولو هیوادوالو ته خبر ورکول کیږی چی د لمړی ځل لپاره د طالبانو د اسلامی تحریك لخوا هیواد وال وروته حج ته لیږل کیږی، شایقین حضرات کولای شی چی د (۱۳۰۰) یوزردری سوه ډالر و په ورکړه خپل (۱۵) پنځلس عکسونه او تذکره د روژی د میاشتی تر لومړی نیټی پوری قندهار ته راورسوی او ډالر به د ۱۹۹۰م کال او راوروسته ماډل وی.

د یادولو وړ دی چی له تحویل شویو ډالرو نه(۳۰۰) ډالر بیرته ورکول کیږی.

## یادونه

ښایی ستاسو ایمان به اجازه درنکړی چې دا ډول سپیڅلی پاڼی په ناوړو ځایونو کښی وغورځوی. (اداره)


# شریعت

دامتیازخاوند : د افغانستان د طالبانو اسلامی تحریك

دتأسیس‌کال : ۱۳۷٤ هـ ش

دخپریدو ځای : د افغانستان جنوبی حوزه

د لیکوال هیئت تر کتنی لاندی

مسؤل‌مدیر : الحاج مولوی احمدجان

تیلفون : ٤۲٦٤٥

آدرس : په پیښورکښی دطالبانو داسلامی تحریك نمایندگی

دبیه‌گټی‌بیه : په هیواد کښی (۲۰۰) افغانی

په پاکستان کښی (۲) کلداری